مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۶/۰۱

# آیا «علوم» «فضول» ګڼلای شو؟

په دې ورځو کې مو د ساینس او مثبته پوهنو په اړه واورېدل، چې کوم ښاغلي «فضول علوم» ګڼلي دي.
د «علم» او «فضول» لغتونه عربي دي. علم ته په پښتو کې پوهه/ پوهنه وايو او فضول ته ابته و بېکاره څه ويلی شو. خو د دواړو لغتونو د عربي اصالت له مخې يې ښايي تر هرڅه وړاندې ساده قاموسي تعريفونه په عربي فرهنګونو کې وپلټو. المعجم الوسيط «علم» داسي راپېژني:

**«العِلْمُ: إدراكُ الشيءِ بحقيقته، ويُطلَقُ على اليقينِ والمعرفة.»** علم د يو څه د حقيقت درک او پېژندنه ده او د يقين و معرفت په مانا هم پېژندل کيږي. بلځای ليکلي: **«العِلْمُ: جملةُ المسائلِ والأصولِ الكُلّيَّةِ المُرتبطةِ بموضوعٍ واحد.»** علم د يوه ټاکلي څه په اړه ټولو اړوندو مسئلو او عمومي اصولو ټولګه ده.

همدا معجم الوسيط د «فضول» په اړه ليکي: «الفُضولُ: ما لا فائدةَ فيه، ويُقال: هذا من فُضول القول، واشتغالُ المرءِ أو تدخُّلُه فيما لا يعنيه.» فضول هغه څه ته ويل کيږي، چې ګټه و فايده ونهلري. يا هغه چا ته ويل کيږي، چې د نورو خلکو په چارو کې بېځايه لاسوهنه و مداخله کوي او په هغه څه کې ځان ورننباسي، چې له ده سره تړاو نهلري.
د عربی کلاسيک فرهنګونه لکه معجم لسان العرب يې بله مانا هم رااخلي، وايي چې فضول د «فضل» جمع ده او د زياتوالي، اضافي په مانا راځي، چې دا بيا هغه څه ته وايي چې تر اړتيا بهر وي، له همدې ځايه يې مانا منفي بار اخيستی، مانا هغه اضافي څه چې «خير او اړتيا» په کې نهوي.

دلته د «علم» او «فضول» تر منځ يو بل شرطي مفهوم رامنځ ته شو، چې «فايده» وه. فضول هغه څه دی، چې له فايدې بهر وي او علم خو نو سراسر فايده ده. راځئ بحث ته د ننوتو لپاره به د «فايدې» قاموسي مانا هم رااخلو:
معجمالوسيط يې لومړی مانا داسي يادوي:

**«الفَائِدَةُ: ما يُسْتَفَادُ من عِلْمٍ أو عَمَلٍ أو مَالٍ أو غيره.»** فايده هغه ګټه ده، چې انسان يې له علم، عمل، مال يا بل څه ځني ترلاسه کوي. له دې تعريف څخه ښکاري، چې «فايده» د «علم» ذاتي جوهر دی او د منطق له مخې هغه څه چې فايده پرې مرتبه نهوي، علم يې ګڼلای نه شو، نو هېڅ «علم» «فضول» نهدی. ځکه که يوڅه فضول وي او فايده ونهلري، هغه نو بيا علم نهدی.

دلته ښايي، د ځينو له خوا، لومړی نيوکه دا راوړاندې شي، چې دنيايي/ عصري/ مادي/ طبيعي/ موډرن/ ناديني يا تجربي و عقلي علوم خو علوم نهدي. علوم خو يوازې ديني بحثونو ته وايي او دا نور خو ټول فنون او کسبونه دي، لکه خټګري و نجاري و پښتوب يا بلڅه.

زه په دغه بحث کې نهننوځم، ځکه ما چې له لرغوني زماني څخه راپهدېخوا د پوهني تاريخ کتلی ټولو عقلي و تجربي يا مثبته و طبيعي پوهنو ته علم وايي. علم له عقل سره کلک تړاو لري. د ابن سينا له نظره، ان «عرفان» هم د «علم» له لارې بېل نه دی او علم بيا له «فعال عقل» سره د ناطقه نفس له تړون څخه زيږي چې عرفاني اړخ يې په اسماني عقولو کې ريښه لري.

ابنسينا د علم په تعريف کې د ترټولو عقلاني علم «هندسي» مثال ورکوي، په خپل کتاب «اشارات او تنبيهات» کې د علومو د تناسب په اړه ليکي: « د هر علم په برخه کې د هغه څه په اړه بحث کيږي، چې مناسبت ورسره لري او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د يوڅه د ذاتي اعراضو احوال څرګندوي، چې د علم موضوع هم ورته وايي، لکه څومرهوالی په هندسه کې. او هرعلم مبادي و مسايل لري.»

پوهېدل د انسان اړتيا ده. پوهېدو ته تنده و تلوسه غريزي ده. له پوهېدو موخه د انساني ژوند په شرايطو کې د ښهوالي راوستل دي. د جبر او اختيار په ديالکتيکي مخامختيا کې پايله اخيستل شوې، چې انسان د خپلې پوهې تر بريده مختار او د خپلې ناپوهۍ تر بريده مجبور دی. لرغونيو انسانانو غوښه اومه (خامه) خوړه، يا يې لمر ته کېښوده چې مړاوې شي، يو مهال يې اور وموند (اور يې زده کړ، د اور بلولو عقلاني تجربه يې ترلاسه کړه، د اور بلولو علم ته ورسېد) او د پخې غوښې خوړل او ځان تودولو تجربه يې خوښه شوه. ژوند يې ښه شو. انسان کرنه زده کړه، ليک يې وکيښ، له طبيعت سره د مخامختيا په بهير کې يې خپلې تجربې شريکې کړې، ژوند يې نور هم ښه او خوندور شو. همدا د عقلي – تجربي پوهنو پيل و. هغه «فايده» چې پورته ورته اشاره وشوه عقلاني علم ته د انسان اړتيا راپېژني. له هماغې لرغونې زمانې تر نن پورې له علم سره د انسان پيوند له «اړتيا» څخه رازيږي. فيزيک، کيميا، هندسه، الجبر، بيولوژي، ستورپېژندنه او د زمکې علم د انسان د ښه مادي ژوند اړتيا ته ځواب وايي. جغرافيا، تاريخ، ادبيات، هنر، ټوکمپوهنه، ژبپوهنه، سياست، حقوق او نور د انسان د ټولنيز ژوند اړتياوو ته ځواب وايي. عرفان او دينپوهنه د انسان روحاني اړتيا تأمينوي. فيلوسوفي د دې ټولو پوهنو په برخه کې له انسانانو سره پوښتنې زېږوي، چې بيا يې انسان د همدغو پوهنو په مرسته د ځواب پلټلو هڅه وکړي.

کله چې له پوهنې سره د انسان پيوند د «اړتيا» او «فايدې/ګټې» پربنسټ وي، دلته نو پوهنه داسې شي، لکه ساهکارل، اوبهڅښل يا خوراک کول. په عقلاني ټولنو کې پوهه لرل، کوم فوقالعاده فضيلت نهګڼل کيږي، لکه چې ساهکارل، اوبه څښل او يا ډوډۍ خوړل کوم فضيلت نهدی. عقلي علوم زده کول د ژوندي انسان ځانګړنه و اړتيا ده او له مړي سره يې يو توپير همدا دی، چې ژوندی انسان هره ورځ د طبيعت قانونمندي تجربه کولای او خپله پوهه زياتولای شي، د پوهې د زياتولو په مرسته د طبيعت په وړاندې د خپل اختيار کړۍ هم پراخولای شي.

موږ پر انسان خبرې وکړې، ښځه و نر دواړه انسانان دي او پوهنې ته يې اړتيا هم برابره ده. ځکه خو پوهه ترلاسه کول تر حق وړاندې يوه طبيعي - غريزي ځانګړنه ده. اصلاً پر دې بحث له بنسټه ناسم، نامنطقي او ناعقلاني دی، چې ښځه يا نر دې د علمترلاسه کولو «حق» ولري که نه؟ اصلاً دا له بنياده غلطه خبره ده، چې داسې څوک دې وي چې ځان ته حق ورکړي په دې اړه چا ته اجازه ورکړي که نه؟

دا کټ مټ داسې ده، لکه يومهال په بشريت کې يوه واکمني يا دولت رامنځ ته شي، چې خلکو ته د اکسيجن تنفس کولو، يا د لمر له رڼا د ګټې اخيستنې «حق» ورکول يا نه ورکول انحصار کړي. داسې واکمني به تاسو ته څنګه وايسي؟ چې نيمو خلکو ته ووايي: تاسو کولای شئ د درېيو ساعتونو لپاره په خيرن سر او مرداره څېره اکسيجن تنفس کړئ، خو نارينه کولای شي اته ساعته يې تنفس کړي او بيا ماشومان پينځه نيم ساعته اکسيجن تنفس کولای شي. د عقلي، تجربي يا عصري علومو زدکړې ته اړتيا داسې ده، لکه اکسيجن تنفس کول، چې ټول ورته اړتيا لري. نو پر دغو پوهنو بنديزونه لګول پخپل يو «فضول» کار دی، نه دا چې دغه پوهنې دې څوک «فضول» وګڼلای شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ